د مَدَني مرکزونو (فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 23 اکتوبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 11 جمادي الاول، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

د حېرانتيا مېدان

(سپاره:1،سورۀ بقره:57)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د پرېشانو نه د وتلو طريقه
- خوراک ولې خرابېږي؟
- د ړندې مرغۍ تَوَکُّل
- د ټينشن عِلاج

پېشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمہ: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

د اَربعینِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 7، حدیثِ پاک نمبر: 7 دے:

اِنِّیْ رَاَیْتُ الْبَارِحَةَ عَجَبًا وَّ رَاَیْتُ رَجُلًا مِّنْ اُمَّتِیْ یَزْحَفُ عَلَی الصِّرَاطِ مَرَّةً وَیَجْثُو مَرَّةً فَجَاءَتْهُ صَلَاتُهُ عَلَیَّ فَاَخَذَتْ بِیَدِهٖ فَاَقَامَتْهُ عَلَی الصِّرَاطِ حَتّٰی جَاوَزَ

ترجمه: ما تېره شپه یوه عجیبه واقعه ولیدله: زما یو اُمتي په پلِ صِراط کله په ملاسته او کله په زنګونانو تللو، په دې کښې ھٰغه درود راغلو کوم چې هغه په ما باندې وئیلے وو، درودِ پاک هغه د لاس نه ونیولو او په پلِ صراط باندې یې ودرولو تر دې پورې چې هغه په پلِ صراط باندې پورې وتو۔[1]

وضاحت: دُرُودِ پاک هغه په پلِ صراط باندې واړولو او جَنَّت ته یې بوتللو۔[2]

پڑھتی دُرودیں دوڑیں گی حوریں
روزِ قیامت میزان و پُل پر
بیڑا تباہی میں آگیا ہے
صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب

لاشہ جولے گا نامِ مُحَمَّد
دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد
دے دے سہارا نامِ مُحَمَّد[3]
صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1... معجم کبیر، جلد:3، صفحه:470، حدیث:5566۔
2... تیسیر شرح جامع الصغیر، جلد:1، صفحه:370۔
3... قبالۂ بخشش، صفحه:134 و135 ملتقطاً۔

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَ ظَلَّلْنَا عَلَیْكُمُ الْغَمَامَ وَ اَنْزَلْنَا عَلَیْكُمُ الْمَنَّ وَ السَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَ مَا ظَلَمُوْنَا وَ لٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ (پاره: 1، سورۂ بقره: 57)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او مونږه ستاسو د پاسه وریځ سورے کړه او په تاسو مو مَن وَ سَلوىٰ نازل کړل (چې) زمونږه درکړے شوي پاکیزه څیزونه وخورئ، او هغوئي زمونږه هیڅ نقصان اونکړو بلکې په خپلو ځانونو یې ظُلم کولو۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې، د سورۂ بقره د آیت: 57 د اوریدو سعادت حاصل کړو، په دې آیت مبارک کښې یوه حېرانوونکې او د سبق نه ډکه واقعه بیان کړے شوې ده، راځئ چې وړومبے هٰغه واقعه واورو، بیا به د آیت وضاحت او د هغې نه مېلاؤېدونکي سبقونه زده کوو۔

د حېرانتیا مېدان

واقعه داسې ده چې کله فرعون غرق شو، په مِصر باندې بني اِسرائیل غالِب شول، بیا دوئي په ازادۍ سره دلته اوسېدل شروع کړل۔

دا خبره یاده ساتئ چې د بني اِسرائیلو کوم اصلي ملک وو، هغه شام او ارضِ مُقَدَّس (یعنې اوس چې چرته فلسطین او بیت المُقدس دے، دا) وو۔ حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام هجرت کړے وو او دلته یې تشریف راوړے وو، حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام هم د دې سیمې په یوه علاقه کِنعَان کښې اوسېدلو، د حضرت یُوسُف عَلَیْہِ السَّلَام په زمانه مبارکه کښې بني اِسرائیل مِصر ته راغلل۔

بيا چې کله بني اِسرائيل د فرعون نه ازاد شول، هٰغه وخت پۀ ارض مقدس باندې د عمالقه قام قبضه وه- نو بني اِسرائيلو ته حُکم وشو چې د عمالقه قام سره جنګ اوکړي او شام او ارضِ مقدس ازاد کړي! د دې حُکم پۀ مېلاؤېدو د بني اِسرائيلو يو لوئي لښکر د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ مشرۍ کښې د شام طرف ته روان شو- مسئله دا وه چې دا خلق د زړۀ نه د دې کار د پاره رضا نۀ وو، بے زړۀ روان شول- (1)

د مِصر او شام ترمينځه يو مېدان دے، کوم ته چې مېدانِ تِيَه وئيلے کېږي، صرف 6 فرسخ (تقريباً 27 کلوميټره) مېدان دے، کله چې دا خلق دلته راورسېدل نو دوئي خبر شول چې عمالقه قام خو ډېر طاقتور قام دے، نو دوئي ضد شروع کړو او وه يې وئيل: اے موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ! مونږ خو د عمالقه قام سره جنګ نۀ کوو-

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو تۀ او ستا رب دواړه لاړ شئ او وجنګېږئ، مونږ خو هم دلته ناست يو- (پارہ:6، سورۂ المائدۃ:24)

الله! الله! خومره د بے ادبی خبره ده، خومره پۀ بے باکی سره هغوئي دا ووئيل--! کله چې هغوئي دا بے ادبي اوکړه نو هغوئي له سزا ورکړے شوه، هٰغه سزا څۀ وه؟ هغوئي پۀ دغه مېدانِ تِيَه کښې قېد کړے شول-

صرف 27 کلوميټره مېدان وو، دوئي به سحر د واپس تللو د پاره روان شول، د مانښامه پورې به يې سفر اوکړو، معلومه به شوه چې د کوم ځائے نه روان شوي وو، واپس هم هٰغه ځائے ته راغلل، داسې هغوئي د دې مېدان نه د وتو ډېر کوششونه اوکړل خو د دې مېدان نه بهر وه نۀ وتل، هلته حېران او پرېشانه ګرځېدل، د 40 کالو پورې دا خلق هم دغلته قېد وو- (2)

1...تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:57، جلد:1، صفحہ:404 و 405 خلاصۃً۔

2...تفسیر طبری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:57، جلد:1، صفحہ:336 و 337، رقم:996994 خلاصۃً۔

بيا د الله پاک کرم ته وګورئ! بني اِسرائيلو جُرم اوکړو، د الله پاک او د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام سپکاوے يې اوکړو، هغوئي د دې جُرم په سزا کښې قېد کړے شول، په دې قېد کښې په هغوئي باندې څه څه عطاګاني وشوې؟ واورئ! الله پاک فرمائي:

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او مونږه ستاسو د پاسه وريځ سورے کړه- (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 57)

پراخه مېدان وو، سورے نۀ وو، نمر به نېغ په هغوئي لګېدو، ځکه په هغوئي باندې د وريځو سورے اوکړے شو-

وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او په تاسو مو مَن وَ سَلویٰ نازل کړل- (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 57)

دلته د خوراک اِنتظام نۀ وو، دوئي د پاره د اسمان نه خوراک نازل کړے شو- خوراک هم څۀ وو؟ مَن و سَلوٰی- **مَنّ** چې کوم دے دا د تُرَنجَبِين (يو قِسم له د قُدرتي خوږو) په شان وو کوم چې به د سحر کېدو نه د نمر راختو پورې د پرخې په شان راوربېدل، د هر يو ګس برخه به تقريباً 4 کلو راتلله- **سَلوٰی** چې کومه ده دا يو قِسم له وړه مرغۍ وه، (کومه چې به وريته کړے شوې دوئي له راتلله) او دوئي به خوړله-

د دې سره سره نور کرم څۀ وشو؟ الله پاک د اسمان نه يوه نُوراني ستن نازله کړه، کومې چې به د شپې د دوئي د پاره رڼا کوله، په هغه 40 کاله موده کښې نۀ د دوئي جامې خيرنې شوې او نۀ زړې شوې، ويښته او نوکان يې نۀ وو غټ شوي، کوم ماشوم چې به پېدا کېدو نو جامې اغوستے شوے به پېدا کېدلو او د عمر سره سره به چې څنګه څنګه لوئېدلو نو جامې به ورسره هم لوئېدلې- [1]

1... تفسیر طبری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:57، جلد:1، صفحہ:336و337، رقم:996994 خلاصۃً۔

وګورئ چې دا څومره کرم دے، دي مجرمان--!! قهد کړے شوي دي، په دې قهد کښې هم د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام په برکت څۀ څۀ اِنعامونه ورکړے شول- خو د دې قام حالت عجیبه وو، دوئي به جُرم کولو، سزا به مېلاؤېدله، په دغه سزا کښې دننه به نور اِنعامات کېدل، دوئي به د هغې د شُکر ادا کولو په ځائے نور جرمونه کول- په تِیَه مقام کښې هم داسې وشول، په دې پراخه مېدان کښې دوئي ته ټولې اسانۍ ترلاسه وې، صرف یو حُکم ورکړے شو:

كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: (چې) زمونږه درکړے شوي پاکیزه څیزونه خورئ- (پارہ:1، سورۂ بقرہ:57)

یعنې د هرې ورځې خوراک روزانه درکړے کېږي، دا مۀ ساتئ! الله پاک نن رزق در عطا کړے دے، سبا به یې بیا در عطا کړي، ځکه یې د سبا د پاره مۀ ذخیره کوئ! د ورځې ورځې یې خورئ! [1]

بني اِسرائیلو دا یو حُکم هم وه نۀ منلو، د سبا د پاره یې بچ کول او کېښودل شروع کړل- د دې دوه نقصانونه وشول (1): دا خوراک زړېدل او خرابېدل شروع شول (2): د خوراک نازلېدل بند شول- [2] الله پاک فرمائي:

وَ مَا ظَلَمُوْنَا وَ لٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغوئي زمونږه هیڅ نقصان اونکړو بلکې په خپلو ځانونو یې ظُلم کولو- (پارہ:1، سورۂ بقرہ:57)

یعنې بني اِسرائیلو په حُکم نۀ منلو هم خپل نقصان اوکړو، په دُنیا کښې د نِعمت نه محرومه شول او په اخرت کښې د سزا حقدار شول-

---

1... تفسیر خازن، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:57، جلد:1، صفحہ:48 خلاصۃً۔

2... تفسیر مظهری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:57، جلد:1، صفحہ:81 خلاصۃً۔

د آيت نه مېلاؤېدونکے سبق

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د سبق نه ډکه قرآني واقعه ده، د دې نه مونږ ته ډېرې خبرې د زدکړې د پاره مېلاؤېږي-

دُنيا د حېرانتيا مېدان دے

وړومبے سبق خو دا چې وګورئ! بني اِسرائيلو د الله پاک حُکم وه نۀ منلو، د هغې سزا ورته څۀ مېلاؤ شوه، دوئي پۀ مېدان کښې قېد کړے شول، دوئي حېرانه او پرېشانه اخوا دېخوا ګرځيدل ، ټوله ورځ به يې سفر کولو خو د کوم ځائے نه چې به روان شوي وو هم پۀ هٰغه ځائے کښې به اوسېدل-

معلومه شوه چې د الله پاک نافرماني د حېرانۍ او پرېشانۍ ذريعه ده- زمونږ سره داسې کېږي چې ډېر ځل پرېشانۍ اِنسان راګېر کړي ❁ د يوې پرېشانۍ نه چې ووځي نو بله راشي ❁ ځوي ناروغه وو، هغه روغ شو ❁ اوس لور ناروغه شوه، د لور عِلاج مو اوکړو ❁ مور ناروغه شوه، د مور عِلاج مو اوکړو ❁ پخپله بيمار شو ❁ کاروبار نۀ چلېدو ❁ قرضه مو واخستله، قرض لا نۀ وو خلاص شوے چې کاروبار بند شو، ډېر پۀ مشکله کار شروع شوے وو ❁ ګراني زياته شوه، ګراني قابو شوې لا نۀ وه چې څۀ بله پرېشاني راغله، بعضې وخت هم داسې کېږي چې اِنسان پۀ پرېشانو کښې راګېر شي، د دې پرېشانو نه د وتو ډېر کوشش کولے شي، اِنسان ښېې لاس وهي خو د دې نه هډو وتلے نۀ شي، چا وئيلي وو:

اِک اور دريا کا سامنا تھا منيرؔ مجھ کو
ميں ايک دريا کے پار اُترا تو ميں نے ديکھا

وضاحت: يعنې يوه پرېشاني ختمه شوه، لا مې د سکون ساه اخستله چې مخې ته يوه بله پرېشانه ولاړه وه-

داسې ولې کېږي؟ مونږ د حېرانتيا د دې مېدان (يعنې د پرېشانو) نه ولې نۀ شو وتلے؟

سوچ کول پکار دي: چرته زمونږ د نافرمانو او د ګناهونو سزا خو نۀ ده ❁ د سحر نـمونځ پۀ خوب کښې تېر شي ❁ د ماسپښين، مازيګر او ماښام نـمونځ پۀ کار کښې د مصروفه کېدو سره تېر شي ❁ د ماسخوتن د نـمونځ پۀ وخت ډېر ستړي يو نو ځکه اودۀ شو ❁ درودِ پاک لوستل، ذِکرُ الله کول، وِرد وظيفې لوستل، د قرآنِ کريم تِلاوت کول، د داسې نېک کارونو طرف ته هډو توجه نۀ وي ❁ د سود کاروبارونه کولے شي ❁ نورو خلقو له تکليفونه ورکړے کېږي او پته نۀ لګي چې څنګه څنګه ګناهونه دي کوم چې پۀ معاشره کښې کېږي۔

پۀ مونږ کښې دې هر ګس د خپل ځان پۀ باره کښې غور اوکړي چې زۀ که چرې پۀ پرېشانو کښې راګېر يم، کارونه مې انښتي دي، پۀ يوې پسې بله پرېشاني راځي، زۀ د حېرانتيا د مېدان نه هډو ووځم نۀ، چرته داسې خو نۀ ده چې دا زما د ګناهونو سزا ده؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له د توبې طرف ته تلل پکار دي! ګناه پرېښودل او د الله پاک فرمانبرداري اِختيارول پکار دي۔ **صوفيائے کرام فرمائي:** دا دُنيا لکه چې مېدانِ تِيَه دے۔ مونږ ټول دلته قېد يو۔ الله پاک کرم اوکړو، پۀ مونږ باندې يې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمتونو سورے اوکړو، زمونږ رُوح ته د طاقت ورکولو د پاره يې رُوحاني خوراک يعني قرآنِ کريم نازل کړو۔ پۀ مونږ باندې لازم دي چې د نبئ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت جولي کلکه ونيسو او پۀ قرآنِ کريم باندې عمل اوکړو او د دې حېرانتيا د مېدان نه پۀ وتلو کښې کامياب شو۔ [1]

د پرېشانو نه د وتلو طريقه

يو ګس وو، کوم چې پۀ پرېشانو کښې راګېر وو، هغه د خپلو پرېشانو نه د وتلو د پاره د يو نېک اِنسان پۀ خِدمت کښې حاضر شو، عرض يې اوکړو: ډېرې پرېشانۍ دي، کوم کار

1…تفسير نعيمي، پاره:1، سورۀ بقرة، زيرِ آيت:57، جلد:1، صفحه:407 خلاصةً۔

چې هم کوم نو هغه اُلټا کېږي، څۀ اوکړم؟ نېک اِنسان ووئيل: ځويه!سټيمپ (***Stamp*** يعنې مُهر) دې ليدلے دے؟ وه يې وئيل: ليدلے مې دے- پوښتنه يې اوکړه پته درته شته چې پۀ سټيمپ (***Stamp***يعنې مُهر) باندې ليکل څنګه وي---؟ وه يې وئيل: پۀ هغه ليکل اُلټا وي- وه يې فرمائيل: آيا دا وئيلے شې چې دا څنګه سمېږي؟ جواب يې ورکړو: کله چې مُهر (***Stamp***) پۀ کاغذ لګي نو الفاظ سم شي- وه يې فرمائيل: لکه څنګه چې مُهر (***Stamp***) خپل تندے پۀ کاغذ باندې لګوي نو د هغه اُلټا الفاط هم سمېږي، هم دغه شان تۀ هم اودس اوکړه او جومات ته لاړ شه او د خپل خالِق او مالِک پۀ حُضُور کښې تندے ولګوه (يعنې سجده اوکړه) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ستا به هم اُلټا کارونه سم شي- [1]

د سکون نه ډک ښه ژوند

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې د الله پاک فرمانبرداري اِختيار کړئ، ګناه پرېږدئ او د نېکو طرف ته راشئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټوله دُنيا به مو هم ښه شي او اخرت به مو هم ښه شي- پۀ 14 سيپاره، د سورۀ نَحل پۀ آيت: 30 کښې اِرشاد دے:

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: کومو خلقو چې پۀ دُنيا کښې ښېګړه اوکړه، د هغوئي د پاره ښېګړه ده او بے شکه د اخرت کور د ټولو نه بهتر دے- (پاره:14، سورۀ النحل:30)

پۀ تفسير صراط الـجنان کښې دي: (د دې آيت يوه معنیٰ دا ده چې) کومو خلقو چې اِيمان راوړو او ښه عمل يې اوکړو، هغوئي ته به پۀ دُنيا کښې هم د دې ښه اجر مېلاؤېږي- [2]

1… فيضانِ نماز، سجدے کے فضائل، صفحه:258۔

2… تفسير صراط الجنان، پاره:14، سورۀ نحل، زيرِ آيت:30، جلد:5، صفحه:306۔

د توبې ذِهن څنګ جوړ شو---؟

یو بزرګ وو، د هغوئ نه چا پوښتنه اوکړه چې عالي جاه! ستاسو د توبه کولو او د الله پاک د عِبادت طرف ته د راتللو ذِهن څنګه جوړ شو؟ هغوئ خپله واقعه بیان کړه، وه یې فرمائیل: زۀ جرنده ګړے ووم (یعنې پۀ جرنده به مې دانې وړۀ کولې)- پۀ کلي کښې اوسېدم، د جُمعې د نمونځ د پاره به د لرې ښار لوئي جومات ته تلل وو، یو ځل د جُمعې شپه وه، زما سره عجیبه معامله وشوه ❁ زما یو پټے وو هغه اوبه کول وو ❁ پۀ جرنده کښې دانې هم پرتې وې، هغه وړۀ کول وو ❁ ما یو خر ساتلے وو، هغه ناڅاپه رسۍ پرانسته او وتښتېدو- اوس ډېره پرېشاني شوه، زۀ یواځې ګس ❁ که پټے اوبه کووم نو نۀ به خَر مېلاؤېږي او نۀ به دانې وړۀ کېږي ❁ که دانې وړۀ کووم نو نۀ به خر مېلاؤېږي او نۀ به پټے اوبه کېږي ❁ که خر لټووم نو نۀ به پټے اوبه کېږي او نۀ به دانې وړۀ کېږي، غرض دا چې ما ته د 2 نقصانونو سره پۀ هر حالت کښې مخ کېدل وو- ډېر پرېشانه ووم، پۀ سوچونو سوچونو مې دماغ ستړي شو، اخر ما پۀ زړۀ کښې ووئیل چې هر څۀ پرېږده! څه د جُمعې د نمونځ د پاره لاړ شه- نو ما د جُمعې د نمونځ تیاري اوکړه او د ښار طرف ته روان شوم- لوئي جومات ته لاړم او ښه پۀ ارام مې د جُمعې نمونځ ادا کړو، بیا د کور طرف ته واپس را روان ووم، کله چې د خپل پټي پۀ خوا راتېرېدم نو وه مې کتل چې زما پټے اوبه شوے دے، ډېر حېران شوم، د چا نه مې پوښتنه اوکړه چې زما پټے چا اوبه کړو؟ هغه ووئیل: ستا ګاؤنډي خپل پټے اوبه کولو، شپه وه خوب ورتللو، ځکه یې پۀ غلطی کښې هم ستا پټے اوبه کړو، بیا چې ورته کله احساس وشو نو بیا یې خپل پټے اوبه کړو- وائي چې ما د الله پاک شُکر ادا کړو او د کور طرف ته را روان شوم، څنګه چې مې دروازه پرانسته نو وه مې کتل چې زما خَر پۀ کور کښې ترلے شوے دے، ما پۀ حېرانتیا سره پوښتنه اوکړه چې دا چا راوستو؟ کور والۀ راته ووئیل چې دا د څنګل طرف ته تللے وو، مخامخ یې ازمرے ولیدو، د هغه نه وېرېدو او پۀ منډه هم پخپله کور ته واپس راغلو- بیا چې زۀ کور ته دننه لاړم نو وه مې کتل چې زما دانې وړۀ شوې دي- بیا

حېران شوم، د کور والؤ نه مې پوښتنه اوکړه چې دا دانې چا وړۀ کړې دي؟ وه يې وئيل: ګاؤنډي خپلې دانې وړۀ کول غوښتل خو پۀ غلطۍ کښې هغه زمونږ دانې وړۀ کړې، کله چې هغه ته معلومه شوه نو زمونږ وړۀ يې مونږ له راکړل او خپلې دانې يې بيا وړۀ کړې- پۀ دې واقعه ليدلو ما پۀ زړۀ ګزار وخوړو چې چرته خو دا حالت وو چې زۀ د 2 نقصانونو سره مخ کېدم او چرته دا حالت دے چې زما ټول کارونه هم پخپله شوي دي- بس هم د هٰغې ورځې نه ما توبه کړه او نېک کارونو له مې ترجيح ورکول شروع کړل- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے---!!

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسنؔ | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا (2)

وضاحت: اے حَسنہؔ! زما کارونه به غېبي ولې نۀ کېږي؟ زما مشکلات به ولې نۀ حل کېږي؟ وګوره چې زۀ بنده د کوم لوئي کار ساز يعنې د الله رَبُّ اَلعٰلَمِين يم---!!

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْنْ بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ۔

تَوَکُّل اِختيار کړئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! بني اِسرائيلو ته به بغېر د خوارۍ نه مَنّ و سَلْوٰی عطا کېدل، هغوئي ته حُکم اوکړے شو:

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: (چې) زمونږه درکړے شوي پاکيزه څيزونه خورئ- (پاره: 1، سورۀ بقره: 57)

يعنې د ورځې خوراک هره روزانه درکړے کېږي، دا مۀ ږدئ! الله پاک نن در عطا کړے

1… تبصرة الغافل، الباب الثالث عشر فی علامة السعادة…الخ، صفحه: 290۔

2… ذوقِ نعت، صفحه: 18۔

دے، سبا به يې بيا در عطا کړي، ځکه د سبا د پاره ذخيره کول مۀ کوئ! د هرې ورځې خوراک روزانه خورئ!

خو بني اِسرائيلو پۀ دې باندې عمل اونکړو، خوراک بچ کول او ايښودل يې شروع کړل يعني هغوئ پۀ الله پاک باندې يقين اونکړو، نتيجه يې څۀ راوتله؟ مَنّ و سَلْوٰی نازلېدل بند شول- معلومه شوه چې تَوَکُّل يعني پۀ الله پاک باندې يقين کول د نِعمتونو د مېلاؤېدو ذريعه ده او تَوَکُّل نۀ کول پۀ خواری کښې د اخته کېدو سبب دے-

خوراک ولې خرابېږي؟

دلته چې پۀ عام توګه خوراک د ډېرو ورځو پورې کېښودے شي نو خرابېږي، دا چنېسے (Fust) ونيسي- د پاتې شوي خوراک محفوظ ساتلو د پاره مختلفې طريقې اِختيارولے شي، مخکښې به داسې نۀ کېدل، دا کوم خوراک چې خرابېږي، دا هم د بني اِسرائيلو د بے صبرۍ نتيجه ده- **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** د نبيانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: که بني اِسرائيل نۀ وے نو نۀ به چرې خوراک خرابېدو او نۀ به غوښه سخا کېدله- [1]

معلومه شوه چې د خوراک خرابېدل او د غوښې سخا کېدل د هغه تاريخ نه شروع شول- کنې د دې نه مخکښې د خوراک خرابېدل نۀ وو او نۀ د غوښې سخا کېدل-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے د بے صبرۍ سپېرۀ والے---!! ځکه مونږ له پکار دي چې تَوَکُّل اِختيار کړو او پۀ الله پاک باندې يقين وساتو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې برکتونه به نصيب کېږي-

---

1... مسلم، کتاب الرضاع، باب لولا حواء لم تخن انثی زوجها الدهر، صفحه:556، حديث:1470-

تَوَکُّل څهٔ ته وئيلے کېږي---؟

د تَوَکُّل معنیٰ ده: پهٔ الله پاک باندې يقين کول او خپل کارونه الله پاک ته سپارل۔ [1] د دې مطلب دا نهٔ دے چې مونږ اسباب پرېږدو بلکې د تَوَکُّل مطلب دا دے چې ❁ پهٔ وسيلو باندې اِعتماد اونکړې ❁ د رزق کټلو د پاره ذريعې اِختيار کړې ❁ ناروغه شوې نو دوائي هم خورې ❁ محنت هم کوې ❁ څهٔ پرېشاني راغله نو د هغې د هوارولو کوشش هم اوکړې خو پهٔ زړهٔ کښې يقين پهٔ وسيلو نهٔ بلکې د الله پاک پهٔ رحمتونو باندې پکار دے۔

که چرې تاسو تَوَکُّل کولے نو---

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او څوک چې پهٔ الله تَوَکُّل اوکړي نو هغه د هغه د پاره کافي دے۔ (پاره:28، سورۂ الطلاق:3)

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَوَكَّلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ حَقَّ تَوَكُّلِهٖ لَرُزِقْتُمْ كَمَا تُرْزَقُ الطَّيْرُ تَغْدُوْ خِمَاصًا وَتَرُوْحُ بِطَانًا که چرې تاسو پهٔ خُدائے باندې داسې تَوَکُّل کولے لکه څنګه چې پهٔ هغه باندې د تَوَکُّل کولو حق دے نو تاسو ته به داسې رزق مېلاؤېدو لکه څنګه چې مرغو ته مېلاؤېږي چې هغوئي سحر وږي ووځي او ماښام د هغوئي خِټې ډکې وي۔ [2]

1…تفسير خزائن العرفان، پاره:3، زيرِ آيت:159، صفحه:141۔

2…ترمذی، کتاب الزهد، باب فی التوکل علی الله، صفحه:560، حديث:2344۔

د ړندې مرغۍ تَوَکُّل

صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل زۀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره بهر ووتم، مونږ وکتل چې يوه نابينا مرغۍ ده، هغې ته ځۀ نۀ ښکاري او هغه پۀ خپله مښوکه باندې وَنه وهي- د هر چا پۀ خبرو باندې پوهېدونکي نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے اَنس! تاته پته ده چې دا مرغۍ ځۀ وائي؟ ما عرض اوکړو: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي- وه يې فرمائيل: دا وائي: اے الله! تۀ انصاف کوونکے يې، هم تا زما د سترګو رڼا اغستې ده، زۀ وږې شوې يم- پۀ دې کښې يو ملخ راغلو او د هغې خُلې ته داخل شو- بيا هغې مرغۍ دوباره پۀ خپله مښوکه باندې وَنه وهله، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے اَنس! پته درته شته چې اوس دا ځۀ وائي؟ ما عرض اوکړو: نۀ- وه يې فرمائيل: دا وائي: مَنْ تَوَکَّلَ عَلَی اللّٰہِ کَفَاہُ څوک چې پۀ الله پاک باندې يقين کوي، الله پاک به هغه له کافي شي۔ [1]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! واقعي رښتيا دي، کوم بنده چې پۀ الله پاک باندې يقين کوي، الله پاک د هغه د پاره کافي کيږي - ځکه د خپل سبا د فِکر کولو پۀ ځائے مونږ له پکار دي چې د خپل اخرت فِکر اوکړو، رزق ځۀ دے؟ کوم کريم مالِک چې نن د خوراک د پاره راکړل ، سبا به يې هم هغه راعطا کوي۔

زما پۀ خپل آقا باندې يقين دے

د خليفه هارون رشيد د خلافت پۀ دور کښې چې کله خلق د سخت قات (يعني د سوکړې او د باران د کمي) ښکار شول نو خلقو خليفه ته د الله پاک پۀ دربار کښې د ژړا، دُعا کولو او د فضولياتو نه د بچ کېدو حُکم اوکړو- پۀ دغه وخت کښې خلقو يو غلام وليدو کوم

---

1 ... الحاوی للفتاوی، الفتاوی الحدیثیه، مجموع الاسئلة النائجیة، صفحه:442۔

چې ډېر خوشحاله او مطمئين په نظر راتللو- هغه د خليفه هارون رشيد په خِدمت کښې پېش کړے شو- خليفه د هغه نه د خوشحالۍ او د اِطمينان د وجې پوښتنه اوکړه نو وه يې وئيل: زما د آقا سره ډېر زيات غنم موجود دي او زما په خپل آقا باندې يقين دے چې هغه به په ما د دې نه خوراک کوي، ځکه زما سره د قات فِکر نشته- د غلام دا خبره چې يې واورېدله نو خليفه ووئيل: چې دا غلام د خپل ځان په شان په اِنسان باندې يقين کوي او مطمئين دے نو بيا مونږ د دې خبرې ډېر حقدار يو چې په الله پاک باندې تَوَکُّل اوکړو- [1]

د ټينشن عِلاج

د مدينے سُلطان، رحمت عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د اِنساني زړۀ په هر ځنګل کښې يو ښاخ دے نو څوک چې خپل زړۀ په دې ټولو ښاخونو پسې ولګوي،نو الله پاک به پروا نۀ کوي چې په کوم ځنګل کښې هغه هلاک کړي او څوک چې په الله کريم باندې تَوَکُّل اوکړي هغه به هغه د دَرو نه بچ کوي- [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د اِنسان يو زړۀ دے خو دۀ د پاره فکرونه غمونه ډېر دي ❁ ډوډۍ ❁ جامې ❁ کور ❁ د بيمارو عِلاج ❁ په خپل مينځ کښې مخفلونه وغېره وغېره د فِکرونو او غمونو ځنګلونه دي، په کومو کښې چې د هر يو تعلق د اِنسان د زړۀ سره دے- **نور فرمائي:** په تَوَکُّل کوونکي مؤمِن باندې به پرېشانۍ او غمونه ورومبے خو راځي نۀ، که چرې راشي نو د اوبو په شان به وبهېږي، که چرې څۀ پاتې هم شي نو زړۀ د هغې نه اثر نۀ اخلي، زړۀ د الله پاک په يادکښې ورک وي- [3]

1…مستطرف، الباب العاشر فی التوکل علی اللہ تعالیٰ...الخ، الفصل الاول، جلد:1، صفحہ:116۔ دار الفکر

2…ابن ماجہ، کتاب الزھد، باب التوکل والیقین، صفحہ:677، حدیث:4166۔

3…مرآۃ المناجیح، جلد:7، صفحہ:123 و 124 ملتقطاً۔

تَوَكُّل كوونكي به پۀ ارام كښې وي

تابِعي بزرګ، حضرت ابو فَروه جَزري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يو ګس ما ته پۀ خوب كښې ووئيل: آيا تا ته معلومه نۀ ده چې هُم تَوَكُّل كوونكي به پۀ ارام كښې وي، ما عرض اوكړو: الله كريم دې پۀ تاسو باندې رحم اوكړي، د كوم څيز سره به پۀ ارام كښې وي؟ وه يې فرمائيل: د دُنيا د غمونو او د حساب د سختۍ نه- پۀ الله پاک مې دې قَسَم وي! د هٰغه خوب نه پس چرې هم زۀ زر يا پۀ ناوخته كېدلو د رزق پۀ مېلاؤېدو باندې غمژن شوے نۀ يم ځكه چې څوک تَوَكُّل خپل كړي نو الله پاک د هغه مُرادونه پوره كوي، د رزق سره سره خبرونه هم د هغه طرف ته راځي- [1]

الله پاک دې زمونږه د تَوَكُّل دولت نصيب كړي، دا چې مونږ كوم د خپل مستقبل پۀ فِكر كښې پرېشانه اوسو، د سبا رزق به د كوم ځائے نه راځي؟ بوډا والے به څنګه تېرېږي؟ د بچو به څۀ كېږي؟ وغېره- د دې خبرو د مخكښې نه منصوبه جوړول ښېله خبره ده خو پۀ دې خبرو پرېشانه كېدل، د نــمونځ، روژې فِكر كولو پۀ ځائے صرف او صرف هم د دې خبرو پۀ ذِكر كښې اخته كېدل، دا ښه خبره نۀ ده- مونږ له پكار دي چې د الله پاک پۀ رحمتونو باندې يقين اوكړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دُنيا به هم ښه شي او اخرت به هم ښه شي- الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راكړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

بهارِ شريعت موبائل ايپلي كېشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جديد ټېكنالوجي پۀ ذريعه هم پۀ مختلف انداز كښې د نېكۍ د دعوت پۀ عام كولو كښې مصروف دے، دې لړ كښې

---

1 ... شعب الايمان، باب التَوَكُّل والتسليم... الخ، جلد:2، صفحه:107، رقم:1304۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د I.T ډيپارټمنټ له خوا ډېر ښکلے، ځانګړے او ډېر فائده مند موبائل ايپلي کېشن د بهارِ شريعت (Bahar e shariyat) ۍ نوم جاري کړے شوے دے ❁ د صدر الشّريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ډېر اعلیٰ کتاب بهارِ شريعت درې واړه جلدونه ۍ دې ايپلي کېشن کښې شامل کړے شوي دي ❁ د دې نه علاوه ۍ بهارِ شريعت کښې شامل د قرآنِ پاک آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې ايپلي کېشن حصه ده ❁ تاسو ۍ ايپلي کېشن کښې متن هم لټولے شئ ❁ د سرچ نور ښه کولو د پاره ۍ دې کښې د اُردو د کي بورډ (Keyboard) سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې ۍ ايپلي کېشن کښې ۍ لټون کښې اساني وي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان ۍ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا ۍ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ ۍ ګوته کول)

مسئله: د فرض رکعتونو پوره کولو نه پس خبرې کول مکروهِ تنزيهي دي۔

وضاحت: ځيني خلق دا ګڼي چې د فرض رکعتونو کولو نه پس که چرې خبرې اوکړے شي نو د وروستو کېدونکو سُنَّتو ثواب به نۀ مېلاؤېږي يا د سر نه هډو سُنَّت ادا کېږي نۀ۔ دا يوه غلط فهمي ده۔ د فرض رکعتونو نه پس، د سُنَّتو وغېره کولو نه مخکښې خبرې کول مکروهِ تنزيهي دي (يعني ګناه پکښې نشته، آؤ! ۍ شرعي توګه نا خوښه دي) او د داسې کولو سره وروستني سُنَّت ادا کېږي، د هغې ثواب هم مېلاؤېږي، البته! ۍ ثواب کښې کمے راځي۔ سُنَّت طريقه هم دا ده چې د فرض رکعتونو نه پس د خبرو وغېره کولو نه ځان ساتئ او سمدستي سُنَّت وغېره کوئ۔ **ۍ بهارِ شريعت کښې دي:** د کومو فرضو نه پس چې سُنَّت دي، ۍ هغې کښې د فرض ادا کولو نه پس خبرې نۀ دي کول پکار، اګر چې سُنَّت به

وشي، خو ثواب به کم وي او پۀ سُنَّتو کښې د تاخيرنه کار اخستل مکروه دي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

40 کرته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ولولئ او پۀ ذخيره کړے شوو څيزونو او کتابونو وغيره باندې يې دم کړئ نو د وَينو او نورو حشراتو نه به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! پۀ حفاظت کښې وي۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1…بهارِ شريعت، جلد:1، حصه:3، صفحه:537۔

2…چڑيا اور اندھا سانپ، صفحه:32۔